ولي الله ملکزی/ مختصات افغانستان/ بخش: نخبگان و مشاهیر

۲۰۲۱/۰۴/ ۰۴

# سید شمس الدین مجروح د سیاست او ادب ځلیدلی ستوری



په منځ کی ولاړ سید شمس الدین مجروح چپ لاسته ولاړ اعلیحضرت محمد ظاهر شاه او ښی لاسته شهید سردار محمد داود خان

ارواښاد سید شمس الدین مجروح، د کونړ د شیګل ولسوالی په شین کوړک کې د ساداتو د درنې کورنی د مشر پاچا صیب ځوئ دی. سید مجروح په ۱۲۸۹هجري لمریز (۱۳۲۹قمري) کال کې زیږیدلی او پلار یې (سید حضرت شاه) د لغمان له ولایت څخه کونړ ته راغلی او د تیرګرو په پاچا صیب باندی مشهور وو. نوموری د هډې صیب (نجم الدین اخند زاده) د صوفي طریقت پیرو او یو زاهد انسان وو. هغه مهال چې نورستان لا کافرستان بلل کیده، د سید کورنی د دغی نارامې سیمې په ارامولو او دیني دعوت او تبلیغ کې عمده رول درلود. له همدی امله، امیر عبد الرحمن خان، امیر حبیب الله خان، غازي امان الله خان او اعلیحضرت ظاهر شاه دغې اغیزمنې کورنی ته پاملرنه درلوده او په شاهي دربارونو کې دوئ ته په درنه سترګه کتل کیدل.

وزیر، سفیر او شاعر، سید شمس الدین مجروح لا پنځه کلن وو چې د خپل پلار له سیوري څخه محروم شو، خو پتمني او تعلیم یافته مور یې د هغه پالنې او تعلیم ته ځان وقف کړ. نوموړی د خپل شخصیت د ودې او فعالیت په اړه داسی لیکي (ما چې د خاورو خاشاکو د لوبو دوره طی کړه او پاخېدم، نو جامې مې وځنډلې او له قلم او کتاب څخه پرته بله هیڅ مشغولا مې نه درلوده. زموږ د کلي شا او خوا لوړو غرونو، ګڼو ځنګلونو، روانو اوبو او نورو قدرتي مظاهرو په ما کې د شعر او شاعرۍ قریحه ژوندۍ کړه). د سید شمس الدین مجروح مشر ورور، سید عبد الرزاق نومیده چې د شال په پاچا صیب باندی مشهور وو. شال پاچا په کونړ کې ډیر با رسوخه او ملنی سړی وو؛ په هره جرګه مرکه کې به خلک دده خولې ته غوږ وو چې پاچا صیب څه وايي؟ یوه لور یې مستوره شال، د کابل راډیو مشهوره ویانده او لمسی یې، سید فضل اکبر د کونړ والي وو. د سید شمس الدین مجروح کشر ورور، سید جلال الدین نومیده چې دوه ځلې له کونړ څخه د مشرانو جرګې غړی وو.

ارواښاد مجروح په ۱۳۱۳هجري لمریز کال کې د صدراعظم محمد هاشم خان لخوا کابل ته ور وغوښتل شو او د نظربند په توګه د مشرانو جرګې انتصابي غړی شو چې هغه وخت د اعیانو مجلس بلل کیده. دری کاله وروسته د افغان ملي بانک د تفتیش رئیس، بیا د قند جوړولو د فابریکې رئیس، وریسې د پیترولو د شرکت مشر او د ۱۳۲۹م په پای کې د قبایلو د مستقل رئیس په توګه مقرر شو. کله چې په ۱۳۴۲ لمریز کال کې د ډاکټر محمد یوسف لخوا نوی کابینه جوړه شوه، نو مجروح د عدلیې وزیر او دوه کاله وروسته د صدارت مرستیال شو. له بله پلوه، ارواښاد مجروح د ډیموکراسی په لسیزې کې د افغانستان د اساسي قانون د جوړولو د کمېټې مشر هم وو. بیا مصر ته د افغانستان د سفیر په توګه واستول شو او د خپلې ډیپلوماتیکې دندې وروسته په ۱۳۵۸لمریز کې د روسانو له یرغل سره جوخت د هېواد پرېښودو ته اړ او پېښور ته مهاجر شو. څو موده وروسته د امریکا د متحدو ایالتونو د جورجیا ایالت ته کډه او د ژوند تر وروستی ورځې هملته پاتې شو.

که څه هم مرحوم مجروح رسمي زده کړې نه وې کړې، خو ډیر ښه استعداد یې درلوده او په پښتو، دري، عربي،

**انگليسي او اردو ژبو يې خبرې کولې او د نثر تر اړخه، ډيره روانه شاعرۍ يې هم کوله. دروند استاذ، ګل پاچا الفت د مرحوم مجروح د منتخبو اشعارو د ټولګې په سريزه کې داسې ليکي (د ښاغلي اديب، سيد شمس الدين مجروح له لوړې قريحې او شعري استعداد څخه ځينې داسې اشعار پيدا شوي چې که چيرې د اشعارو پېرل او پلورل رواج وای او يا د راکړې ورکړې په بازار کې د يو تن شعر د بل کېدل شوني وای، نو ما به خپل ځو شعرونه، د ده په يو شعر ورکړي وو). همدارنګه، ستر اديب او څيړونکي، عبدالروف بېنوا د مجروح په اړه داسی ليکي (ښاغلی مجروح د پراخې مطالعې له مخې په اکثرو ادبي، ټولنيزو، فلسفي او سختو مذهبي مسايلو کې د ژورې څيړنې خاوند بلل کيږي. هغه يو با وقاره او د خپلواک طبيعت څښتن دی چې د حق په ويلو کې يې د هيڅ چا پروا نه ساتي).**

**سيد شمس الدين مجروح د افغانستان په حکومت کې، له کوزنۍ څخه لمړنی کس و چې د وزارت مقام ته ورسيد. مجروح د لسګونو تحقيقي او علمي مقالو ترڅنګه، د سر ګذشت من، پريشانه خوب، د عمر خيام د رباعياتو پښتو ژباړه، ياد فرياد او د منتخبو اشعارو مجموعه چې د نوموړي د شعرونو ټولګه ده، ليکلي او چاپ شويدي. د کونړ دغه منلی او غښتلی شخصيت، سيد شمس الدين مجروح د ۱۳۸۱هجري لمريز کال (۲۰۰۲ د جون ۲۴مه) د جورجيا د اټلانټا په ښار کې د ۹۲ کالو په عمر وفات او جنازه يې هيواد ته واستول شوه. د نوموړي جنازه د کابل په هوايي ډګر کې د ولسمشر حامد کرزي او د دولت د عالي رتبه مامورينو لخوا استقبال شوه او بيا د هيلکوپټر له لارې کونړ ته واستول شوه. دغه ملي شخصيت د خپل ځوئ، شهيد ډاکټر بهاء الدين مجروح سره د شينکوړک په سيمه کې څنګ په څنګ په خپلې پلرنۍ هديرې کې خاورو ته وسپارل شوه.**

**د يادونې ده چې پوهاند ډاکټر سيد بهاء الدين مجروح د افغانستان د نوميالیو پوهانو او د فلسفې او تاريخ په ډګر کې د ښه شهرت څخه برخمن وو. شهيد استاذ د ۱۹۸۸م کال د فبرورۍ په مياشت کې په پېښور کې د خپل دفتر د دروازې ترڅنګه د ناپيژاندو قاتلينو لخوا ووژل شو او ځای په ځای يې خپله اروا، د ارواو خالق ته وسپارله. غواړم دلته د مرحوم سيد شمس الدين مجروح له خپل کتاب (منتخب شعرونه) څخه چې د هغه لمسي او ځما محترم دوست، سيد مسعود مجروح ما ته تازه ډالۍ کړيدی، ځو بيتونه د بيلګې په ډول تاسې خدمت ته وړاندی کړم.**

**سپوږمۍ ته خطاب کوي:**

**دا چې ښکاري ستورو منځ کې ګوندی دا د وينو جام دی**
**يا توئ شوې ملغلرې دغه يو په کې رخام دی**
**يا فلک دانې شيندلې پټ يې ايښې چيرته دام دی**

**بيا وايي:**

**د هر چا په ځان نظر وي يو له بله بيزاري ده**
**پردی غم پری نيم اختر وي دا منطق دی، هوښياري ده؟**
**يو د بل په غوښو پايي دلته ګيډه دينداري ده**

**روح يې ښاد، ياد يې تل تازه**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ